د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

د علمي چارو معاونیت

د پلان و پالیسی آمریت

# د پوهنتون د تطبیقي پلان د تطبیق څخه د نظارت د دوهمي ربعي راپور

| | |
|---|---|
| راپور چمتو کونکې مرجع | د پلان او پالیسي آمریت |
| راپور تائیدونکې مرجع | د پوهنتون علمي شورا |
| کال | ۱۴۰۲ هـ ش |

# لړلیک

عنوان صفحه


1. سریزه ........................................................................................................................... الف
2. د راپور خلص مطلب ........................................................................................................... 1
3. د راپور تفصیلي اړخ ........................................................................................................... 1
4. د ۱۴۰۲ هـ ش کال د دوهمي ربعي د نظارت چک لست ........................................................ 2
5. د تطبیقي پلان د دوهمي ربعي د راپور تحلیلي چارت ........................................................ 3
6. پلان سوي فعالیتونه چي په دریمه ربعه کښي ترسره نه سول ............................................... 3
7. وړاندیزونه او د هغوي د حل لاري ........................................................................................ 3
8. پایله ..................................................................................................................................... 4

## 1 سریزه

کله ،چي بُست پوهنتون په ۱۳۹۱/۱/۲۸ نیټې د (۴۸۷) ګڼه حکم او د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو ریاست د (۴۴) ثبت ګڼې پر بنسټ د ۱۳۹۱/۲/۴ رامنځته سو؛ بُست پوهنتون خپل رسالت ته د رسېدولو په موخه دخپلو علمي او اکاډمیکو چارو ماموریت د یو مناسب او معیاري مدیریت د حتمي او لازمي عناصرو له جملې څخه پر تشکیلاتي برخه باندي د چارو د ښه موثریت او مثمریت لپاره زیاته توجو وکړل، د دې لپاره ،چي د پوهنتون د علمي ،تحصیلي او اداري واحدونو د پلانونو او پالیسیو ترمنځ کومه مغلقتیا،پیچلتیا، ګونګوالی. خلل او نیمګړتیاوي رامنځته نه سي نو دا یې اړینه وبلل ،چي د پوهنتون په تشکیلاتي برخه کي د پلان او پالیسی تر عنوان لاندي یې یو آمریت په ۱۳۹۸ هـ لمریز کال کښي ایجاد کړ ، تر څو د ټولو پوهنتون شمله او امربوطه ادارو له پنځه کلنو ستراتیژیکو ، کلني کاري پلانونو او پالیسیو **د تطبیق ،تعقیب ، څار، ارزوني** او د پلان سویو چارو د تر سره سویو راپورونو او ګزارشونو څخه ډاډ او اطمینان تر لاسه کړي؛ نو په همدې غرض د پلان او پالیسي آمریت د خپل کاري لایحې له مخي دا مکلفیت په غاړه واخیستی ،چي د پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژک پلان د کمېټې مسؤلیت ،د پوهنتون د کلني تطبیقي پلان او د کلني پرمختګ (APR) د راپور چمتو کولو ، د پوهنتون د اداري کارمندانو سره د پلان او راپور جوړوني په برخه کښي همږغي او همکاري تر سره کړي . او همدارنګه د پوهنتون د رهبري هیئت او علمي شورا په غونډو کښي د ګډون غړیتوب او د پلانونو ،پالیسیو او راپور جوړوني په موخه د پوهنځیو د رئیسانو او مربوطه څانګو له آمریتونو سره د ناستي مسؤلیت هم ور وسپارل سو.

## 2 د راپور خلص مطلب:

د بُست پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژیک پلان له مخي د (1402) هـ ش کال د کلني تطبیقي پلان **د دوهمي ربعي** له تطبیق څخه نظارت د یو تائید سوي پلان او تقویم له مخي صورت نیسي، یاد نظارت د پوهنتون د علمي شورا د پریکړي پر بنسټ رامنځته کېږي دا نظارت دهري ربعي په پاي کښي د یو ټاکل سوي پلاوي په مرسته تر سره کیږي، دا پلاوي د یو دري کسیزه غړو لخوا تشکیل سوی دی ،چي د همدي کلني تطبیقي پلان د تطبیق څخه د نظارت مسؤلیت په غاړه لري ، چي موخه یې د ستراتیژیک پلان له تطبیقي څخه ډاډ او اطمینان تر لاسه کول دي.

### د ۱۴۰۲ هـ ش کال لپاره د پوهنتون د تطبیقي د تطبیق څخه د نظارت د پلاوي نوملړ :

| گڼه | نوم او تخلص | دنده |
|---|---|---|
| 1 | عبدالله ضیائي | د پوهنتون علمي مرستیال / د کمېټې مسؤل |
| 2 | ولی محمد لښکري | د پلان او پالیسي امر / د کمیټي منشی |
| 3 | ولی جان سروري | د انجینیري پوهنځی رئیس/د کمېټې غړی |

## 3 د راپور تفصیلي اړخ:

د بُست پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژیک پلان له مخي د (1402) هـ ش کال د کلني تطبیقي پلان د **دوهمي ربعي** د تطبیق څخه نظارت د مهالویش سره سم په 1402/04/05 نېټه باندي صورت ونیوی . په یاد نظارت او څارنه کي د پوهنتون د تطبیقي پلان پر ټولو پلان سویو فعالیتونو باندي د ټاکل سوي نظارت پلاوي په مرسته د یو منظم میکانیزم پر بنسټ نظارت تر سره سو ،د دې ربعي دنظارت او څارني په پایله کښي د تطبیقي پلان هغه فعالیت، چي په همدې ربعه کښي پلان سوي و د هغوي د تطبیق د معلوملو لپاره مو د یوه چک لست په ذریعه باندي د فعالیت تر سره کېدنه په نښته کړل ،د (14)اساسي اهدافو په پلان سویو فعالیتونو کښي (7) فعالیتونه په نسبي توګه تر سره سوي دي ، (7) فعالیتونه نه دي تر سره سوي د تر سره کېدو په حال کښي دي. د نه تر سره کېدلو عمده ستونزه یې اقتصادي کمزورتیا ګڼل کېږي.

د 1402 هـ ش کال د پلان سویو فعالیتونو د پرمختګ د فیصدي اوسط د ټاکل سوي هدف د اندازې مطابق په دوهمه ربعه کښي کښي (50%) سلنه ټاکلای سو.

## 4. د ۱۴۰۲ کال کلنی عملیاتي پلان د دوهمي ربعي د نظارت چک لست:

| | |
|---|---|
| د نظارت نېټه: | 1402/06/05 |
| ربعه | دوهمه |
| د نظارت عنوان | کلنی تطبیقي پلان |
| د نظارت د اجرا محل | د پلان او پالیسی آمریت |

| ګڼه | د پوهنتون د ستراتیژیک پلان څخه د (۱۴۰۲) ل ل کال د تطبیقي پلان د تطبیق د نظارت پروګرامونه او کړني | ایا پروګرام پیل سوی | | د پلان سره مطابق والی | | | دچارو دتطبیق کچه | | | | | عمده لاسته راوړنې | عمده ستونزې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | هو | نه | د پلان مطابق | د پلان څخه بهر | د نه ترسره کېدو دلیل | 81-100% ډېرښه | 61-80% ښه | 41-60% منځنۍ | 21-40% کمزوری | 0-20% ډېرکمزوری | | |
| 1 | د استادانو د ماسټری پروګرام | | ✓ | | | د بودجي نه شتون | | | | | ✓ | نه لرو | اقتصادي ضعف |
| 2 | د علمي څېړنو پراخول | ✓ | | ✓ | | د بودجي نه شتون | ✓ | | | | | لس څېړني | نه لرو |
| 3 | مرستندویه کورسونه | | ✓ | | | د بودجي نه شتون | | | | | ✓ | نه لرو | اقتصادي ضعف |
| 4 | د لابراتوارونو او کمپیوټر لیبونو پراختیا | | ✓ | | | | ✓ | | | | ✓ | نه لرو | اقتصادي ضعف |
| 5 | کتابتون معیاري کول او پراخول | ✓ | | ✓ | ✓ | | | | | | | کتابونو ډېروالي | |
| 6 | د پارکینګ پراختیا او د مسجد، د محصلینو او استادانو لپاره د لیلیې/استوګنځی او عونډو د هال /تالار رغول | ✓ | | | ✓ | د بودجي نه شتون | ✓ | | | | | د پوهنتون پارکینګ پراختیا | |
| 7 | د پوهنتون لپاره د نوی موقیعت انتخاب | | ✓ | ✓ | | بې کاري او اقتصادي ضعف | | | | | ✓ | نه لرو | اقتصادي ضعف |
| 8 | د نویو څانګو (برنامو) رامنځته کول | | ✓ | ✓ | | بې کاري او اقتصادي ضعف | | | | | ✓ | نه لرو | اقتصادي ضعف |
| 9 | د نویو پوهنځیو او ډیپارټمنتو ایجاد | | ✓ | ✓ | | بې کاري او اقتصادي ضعف | | | | | ✓ | نه لرو | اقتصادي ضعف |
| 10 | د کدري روغتون پراختیا | ✓ | | ✓ | ✓ | | ✓ | | | | | د تجهیزاتو شتون | اقتصادي ضعف |
| 11 | د تشویقي او تفریحي پروګرامونو مخته ورل | ✓ | | ✓ | | | ✓ | | | | | د تولني توجو | |
| 12 | په ولایتي کچه د پوهني له نظام سره همکاري | ✓ | | ✓ | | | | | ✓ | | | د تولني توجو | لوړ زده کړو ته نه علاقه |
| 13 | د مطبوعاتي / میدیایي فعالتونو پروګرام | | | ✓ | | | | | | | | پوهاوی | اقتصادي ضعف |
| 14 | د تخفیفونو پروګرام | | ✓ | ✓ | | د بودجي نه شتون | | | | | ✓ | نه لرو | اقتصادي ضعف |

### 5. د تطبیقي پلان د دوهمي ربعي د راپور تحلیلي چارټ:




### 6. هغه فعالیتونه چي په دوهمه ربعه کښي پلان سوي وه اما ترسره نه سول په لاندي ډول دي:

6.1. د استادانو دظرفیت لوړوالی په موخه استادان ماسټری ته لېږل.

6.2. مرستندویه کورسونه.

6.3. د لابراتوارونو او کمپیوټر لیبونو پراختیا

6.4. د پوهنتون لپاره د نوی موقیعت انتخاب

6.5. د نویو څانګو (برنامو) رامنځته کول

6.6. د نویو پوهنځیو او دیپارټمینټونو ایجادول

6.7. د تخفیف پروګرام

پورته ذکر سوي فعالیتونه د بُست پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژیک پلان له اساسي او بنسټیزو ستراتیژیکو موخي څخه بلل کېږي. دا، چي بُست پوهنتون په دې برخه کښي پاته راغلی دي عمده ستونزه یې کمه بودجه او اقتصادي مشکلات دي.

### 7. وړاندیزونه او د هغوی د حل لارې:

| حل لاري | وړاندیزونه | ګڼه |
|---|---|---|
| د علمي او تحصیلي کچه تر څنګ یې د تجربې او تخصص برخه هم په نظر کښي ونیول سي | د راتلونکي ستراتیژیک پلان د جوړوني په موخه د یوعلمي او تخصصي کمېټي رامنځته کول | 1 |
| د دریم پړاو څان ارزوني نه وروسته د بُست پوهنتون محترم مؤسس دي دا غوښتنه د لوړو زده کړو د محترم وزارت سره د امتیاز په ډول شریکه کړي تر څو د ماسټری برنامی ته پوره چمتو والی ونیسي. | د تیر ستراتیژیک پلان د نه تر سره سویو فعالیتونو د تر سره کېدو په موخه د لوړو زده کړو د محترم وزارت څخه د پوره همکاري غوښتنه | 2 |
| د ارزوني او بررسي له مخي دي ټول اداري کارمندان پر خپل وخت و ارزول سي او مربوطه اداره دې په اړه د خپلو پالیسیو او کړنلاو څخه دي په خپلواکه توګه استفاده وکړي او د ارزول سویو اشخاصو په اړه دې خپل پریکړه عملي کړي. | د پوهنتون د هري اداري او بست لپاره د وړ، با تجربه او مجربو علمي کادرونو ګمارنه | 3 |

**8 پایله:**

دا نتیجه په لاس راځي ،چې د 1402 هـ ش کال د کلني تطبیقي پلان ټول هغه فعالیتونه،چې په دوهمه ربعه کښې پلان سوي وه د هغوي له جملې څخه په سل سلنه کښې (50%) سلنه يې تر سره سوي او پاتي نور،چې (50%) سلنه کېږي،چې یا تر کار لاندي دي او یا هم د بودجې د نه شتون له امله پر ځای پاتې دي، چې و مو نسوه کولای پر خپل پلان سوي وخت يې تر سره کړو.

**د ستراتیژیک پلان د تطبیقي پلان څخه د تطبیق د نظارت د پلاوي لاسلیکونه:**

د تطبیقي پلان د نظارت غړی: ولي محمد لښکري........................ د تطبیقي پلان د نظارت غړی: انجینیر ولي جان سروري........................

د تطبیقي پلان د نظارت مسؤل: لاسلیک:............................

د پور شرحي سره سم د کلني تطبیقي پلان څخه د تطبیق د نظارت د دوهمي ربعي ترتیب سوی راپور د ستراتیژیک پلان کمیټې په (  /  /  1402 نیټه باندي په (  ) نمبرغونډه کښې تصویب او د پوهنتون د علمي شورا په (  /  / 1402) نېټه باندي په (  ) نمبر غونډه کښې تائید او تصدیق سو.

د پوهنتون د علمي شوار د محترم رئیس لاسلیک او مهُر .................................................